# مطبوعـــــاتي خپـــــــرونه

د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګـــــــرام

په افغانـــستان کې مرکزي دفتر، شاه محمود غازي واټ، کابل

افغانستان

دچټکې خپروني لپاره

## د ملګرو ملتونو د وړو قرضو نړیوال کال افغانستان ته راورسید

کابل، افغانستان دلړم ۲۳ د ۱۳۸۴ کال: د ۲۰۰۵ د وړو قرضو نړیوال کال د فعالیتونو په لړۍ کې د وړو پانګو اچوونکو د نړیوالی جایزې افغاني ګټونکی د روان کال د لړم په ۲۸ د کابل په سیرینا هوټل کې د یو لړ مراسمو په ترڅ کې ټاکل کیږي. د ۲۰۰۵ کال د ملګرو ملتونو لخوا د وړو قرضو په نړیوال کال نومول شوی دی.

د وړو پانګو اچوونکو د نړیوالی جایزې پروګرام په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام، د افغانستان د وړو پانګو اچوونکو د ټولنې، او د میسفا (MISFA) د دفتر لخوا په ګډه سر ته رسیږي.

د وړو قرضو په نړیوال کال کې به هڅه کیږي تر څو د مالی سکټورونو جوړولو ته په ځانګړې توګه هغه سکټورونه چې وړو کاروبارونو ته ګټه رسوي، وده ورکړي شي. د دې کال د لمانځلو لپاره، د افغانستان په هر ګوټ کې د وړو کاروبار لرونکو ته په دغه ملي سیالیو کې د برخې اخستنې موقع برابره شوې ده کوم چې د وړو پانګو اچوونکو د نړیوالی جایزې یا (GMA) په نوم یادیږي.

د نړیوالی جایزې دا پروګرام د افغانستان په ګډون په څه د پاسه دیرشو نورو ملکونو کې پر مخ وړل کیږي. د GMA د پروګرام موخه دا ده چه وړو تصدیګانو ته وده ورکړي او د دې تصدیګانو او د دوی د اړتیا په اړوند د خبرتیا سطحه لوړه کړي، چه په پراخ ډول د وړې پانګې اچوونې په نوم یادیږي. په خورا مهمه توګه، د دې ابتکار موخه دا ده چې هغه سیمه یز واړه کاروبار لرونکي مخکښ کړي کوم چې د خپلو ټولنو په زیرمه یزو نیکمرغیو کې مرسته کوي، او نورې پانګې خپلو وده کونکي زیرمو ته راوړي.

په افغانستان کې، برخه اخستونکي واړه کاروبار لرونکي خپلې لاسته راوړنې د وړې پانګې اچوونې ماهرانو، سیاسی او کاروباری مشرانو ته وړاندې کړي. د لمړنې ټاکنو د بهیر څخه وروسته، یو دوولس کسیز لست د آخرې سیالیو لپاره په ګوته شوی دی. د سیالیو او فیصلو دغه لړۍ د لړم په ۲۸ هغه وخت سر ته رسیږي چې د ګټونکي نومونه د جایزو د مراسمو په ترڅ کې د کابل په سیرینا هوټل کې په ډاګه شي. جایزې به په دغه کټګوریو کې ورکول کیږي: کرنه، جنګ ځپلې کونډې، مخکنۍ جګړه ماران، بدیل معیشت، د کابل څخه بهر کاروبارونه او راستون شوي کډوال.

دغه نړیواله جایزه د وړو کاروبار لرونکو هڅې هغه مهال لمانځي چې نړۍ په ۲۰۰۵ کال کې د وړو قرضو په چارچاپیر څرخیږي.

ټولو مطبوعاتي رسینیو ته بلنه ورکول کیږي چې د جایزو په دغه غونډه کې
د لړم ۲۸چې د نومبر د ۱۹ نیټې سره سمون خوري ، په ۱:۳۰ بجو
د سیرینا په هوټل، کابل
کې ګډون وکړي.

که تاسې غواړئ نور معلومات ترلاسه کړئ او یا غواړئ چې په دغه غونډه کې ګډون وکړئ نو
مصطفی اریچ
د مطبوعاتو او خپرونو عمومي مسئول
د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام
ټیلیفون: ۰۷۰۱۵۷۴۹۴
Mustafa.eric@undp.org
سره په تماس کې شئ.